نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۵/۱۰/۲۷

# لیکوال؛ نظرونه او لیدونه

ټول انسانان آزاد او خپلواک دي، هر څوک بویه خپل نظر او فکر یي. د اسلام مبارک دین او اخلاق د انسان د بشپړې آزادۍ له پاره لاربښونه کوي، ولي د الله ﷻ د سنتو مخالف ځیني کسان، ټولني او حتی حکومتونه د انسانانو د غلامولو په فکر کې دي. ستونزه له همدې ځایه راولاړیږي چي چاته د خپل نظر د ښکندولو حق ورنه کړل شي. ډېرې وخت د نظر دغه ډول سانسور په ټولنه کې د انفجار لامل شي. وروستی عربي پسرلی هم د دغسې یوه فکري او نظري سانسور یو انفجار ګڼلی شو.
بېلابېل نظرونه او اندونه په ټولنو کې شتون لري، اوس زموږ د هیواد د شرایطو په نظر کې نیولو سره د نظرونو، اندونو او بیان آزادي اړوند لاندي جوړښت وجود لري:
لومړی: هغه لیکوال، ژورنالست، شاعر او د سیاسي چارو شنونکی چي خپله آزادي په هر ډول شرایطو کې ساتل غواړي، دغه ډله کسان ډیر لږ دي، دوی د هیڅ ډلي تر مادي، دولتي او یا هم تهدید تر تأثیر لاندي ځان نه راولي، بلکې د خپلو خلکو حقیقي تصویر وړاندي کول غواړي، داسي تصویر چي د خپل ولس ملي ګټي یې پکې خوندي وي.
ولي ممکن ده چي دغه ډله په عقیدوي لحاظ او ځینو نورو ټکو کې له بېلابېلو اړخونو سره مشترکات ولري، او هر هغه کار چي د ولس په ګټه وي، هغه که د هرې ډلي له خوا وي، هغه ته په مثبت نظر ګوري، د هرې ډلي ښه ته ښه او بد ته بد وايي، همدې ډلي خپل ځان ته د بیان آزادي او د ولس خدمت هدف ټاکلي وي، د هیڅ ډول مادي او نورو امتیازونو تر تأثیر لاندي نه راځي.
دغه ډلي ته سخته ده چي له نیوکو او غبرګونو سره دي مخ نه شي، حتی په یو وخت کې د بېلابېلو ډلو او بېلابېلو نظرونو لرونکو کسانو له نیوکو او غبرګونو سره مخ کیږي. همدا لامل دی چي همیش دغه د حق ویونکي او په آزادي باور لرونکي د لیکوالو، ژورنالستانو، شاعرانو او سیاسي شنونکو ډله کوچنی وي او له بېلابېلو ستونزو سره مخ کیږي.
دوېم: هغه لیکوال، ژورنالست، شاعر او د سیاسي چارو شنونکی چي ځان کومي ځانګړې ډلي ته منسوبوي، دوی ځان ته حق ورکوي چي د خپلي ډلي په ګټه تبلیغات وکړي او هدف یې دا وي چي د خپلي ډلي اړوند د عام ولس ذهنیت مثبت لورته واړوي، دغه ډله لیکوالان، ژورنالستان، شاعران او سیاسي شنونکي معلوم وي، د دوی خپل قناعت همدا وي چي د کومي ځانګړې ډلي له پاره کار وکړي او د خپلي ډلي د مشرانو مرسته او همکاري له ځان سره لري.
درېیم: هغه لیکوال، ژورنالست، شاعر او د سیاسي چارو شنونکی چي د معلوم معاش په مقابل کې کار کوي، هر څوک چي ورته معاش ورکوي د هغه له پاره خدمت کوي، خپل هدف نه لري، ځان په کومي ډلي پوري مربوط نه ګڼي او نه د کومي ځانګړې ډلي او نه هم د کوم ځانګړي هدف له پاره کار کوي.
تاسي د هیواد او انیس ورځپاڼي وګورئ، داسي ښاغلي شته چي د بېلابېلو حکومتونو په وخت کې په یادو ورځپاڼو کې یې کار کړی او د هر حکومت د ټګلاري مطابق خپلي لیکني، شعرونه او سیاسي تبصرې خلکو ته وړاندي کوي، همدا ډول د کابل راډیو او کابل ټلویزون یې بل ښه مثال کیدای شي. دلته قضاوت نه کوو چي څوک ښه دي څوک نه، یوازې د لیکوالو نظرخاوندانو کټګوری جلا کوو.
څلورم: داسي ډله ده چي نوم او نښان یې نشته، په مستعار او پردي نوم باندي د معاش په مقابل کې د پردیو د اهدافو له پاره کار کوي، دوی همدې ته ګمارل شوي وي چي د اداري له خوا کوم څه ورته ویل کیږي هغه په منظم ډول سره عملي کړي، که په خپل نوم دغه ډول کار کوي، بیا خو یې خلک پېژني، ډله او ټګلاره یې خلکو ته معلومه وي، ځکه همدا ډله کسان په کومي ځانګړې ډلي پوري تړلي وي او یا خو به د حکومت له پاره چوپړ کوي، نو له دې امله ده چي په پردیو نومونو لیکني، شعرونه، راپورونه او تبصرې په ټولنیزو رسنیو او ځینو ځانګړو او پټو ادارو په ورځپاڼو او مجلو کې وړاندي کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د دوی لویه موخه داوي چې له نابلده ادرس څخه ملي ګټو ته د ژمن انسان په ډول په ځینو ازادو کسانو نیوکې وکړي او د هغوی شخصیت تر سوال لاندي راولي، همدا ډول غواړي په پردیو نومونو خپل د مخالفي ډلي لیکوال، ژورنالسټ، شاعر او سیاسي شنونکي تخریب کړي. جالبه دا ده، چې دوی سره له دې چې د واکمنو په ګټه او ننګه هم لیکنه کوي او د هر هغه لیکوال او نظر خاوند پر ضد لیکنه کوي چې له حکومت سره متفاوت نظر لري؛ خو بیا هم پر خپل نوم دغه لیکل نه شي کولای.

دوی د دوېمي او درېمي کټګورۍ مختلط ترکیب دی، ځان یې کومي ځانګړې ډلي ته منسوب کړي وي خو معاش هم ورته مهم وي، که معاش نه وي بیا کار نه کوي.

ځیني داسي کسان هم شته چې دا په ډله کې نه راځي، البته تر ډېره سیاستوال داکار کوي، د خپل ځان د شهرت له پاره داسي لیکنه کوي چې د نورو سیاستوالو او چارواکو توجه خپل ځان او شخصیت ته جلب کړي، داکار ځیني خپله کوي او ځیني بیا نورو ملګرو لیکوالو ته دنده سپاري، کله د همدې تاکتیک له مخې همدغه کسان په لوړو دندو هم ګمارل کیږي.

همدغه کار ځیني ځوان او بې تجربې لیکوال، ژورنالسټ او سیاسي شنونکی هم کوی، په بل نوم لیکنه داسي ترتیب کوي چې د ځان په ګټه او د ځان مهم ښودلو له پاره پکې جملې کارول شوې وي، هدف یې داوي چې ځان خلکو ته په خپله خو په مستعار نوم ور وښیي، چې ډیر وخت د دغه ډول لیکنو تفکیک لیکوالان په اسانی سره کولای شي.

له دې ورها خوا ممکن ځیني داسي نورې کټه ګورئ هم ولري، مثلا ځیني کسان یواځې د مذهبي افراطیت له پاره کار کوي، ځیني کسان د اهل تسنن مذهب او ځیني یې د اهل تشیع مذهب، ځیني یې د سلفیت، ځیني یې د یهودیت، ځیني یې د عیسویت، ځیني یې د سیکولریزم، ځیني یې د بودایزم او هندویزم او ځنیې یې د نورو مذاهبو له پاره کار کوي.

اوس که ښه ځیر شو، نو لومړی ډله کسان هغه څوک دي چې په لاندي ټولو کټګوریو کې به په یو نه یو ډول رقیبان ولري.

د هیواد په اوسنیو شرایطو کې ځوانو لیکوالو، ژورنالسټانو، شاعرانو او د سیاسي چارو شنونکو ته اړینه ده چې د یو بل د نظر، نیوکې، سپارښتني زغم ولري، مسایل په علمي ډول سره بحث کړي، مناقشه یې علمي وي، سالمو او رغنده انتقادونو او سپارښتنو ته غاړه کیږدي.

په دې هیله چې د جنګ، تاوتریخوالي او د ښمني پر ځای زموږ ځوان کهول د سولې، امن، یووالي او هیواد د پرمختګ له پاره خپل استعدادونه وکاروي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ